**د۱۳۸۶کال رپوټونه**

**دکنترول او پلټنې ادارې د۱۳۸۶ کال په اوږدو کې پلټنې او فعا لیتونه تر سره کړي چې په لاندې توګه یې یادونه شوې ده:**

ترپلټنو لاندې مراجعې ۷۵۹ مرجعې مرکزي او سیمه ایزې ادارې پکښې شامل دي

پلټل شوې مراجعې ۵۷۷ مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي ۱۸۲مرجعی دامنیتي نامساعدو شرایطو له امله

هغه رپوټونه او دوسیې چې ددولت دحقونو دتحصیل او تحقق په موخه ورسته له شننې او ارزونې دنیمګرتیاو داصلاح په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې (٦۹۰) رپوټونه دي .
هغه مبالغ چي دپلټنو په پایله کې د مالیې نه وضع کولو،صکوک ،کمیشن، ټکس، هغه عواید چې ددولت وارداتو ته انتقال شوي ندي ، دقیمت توپیر، دځنډ جریمه ، اضافه ورکړې . ناسم سنجش ،فاضله مبلغ دقراردادونو دفیات تجدید او داسې نورو مدارکو څخه ددولت خزانې ته دتحصیل وړ تثبیت شویدي دي مبلغ (۸۲۹)ملیونه افغانۍ کیږي.
لوی څارنوالي ته لیږل شویو دوسیو تعداد (٤۳) دوسیې دي.
په دوسیو کې شامله وجوه مبلغ (۳۷۷) ملیونه افغانۍ.

مبلغ (۷٦۹) ملیونه افغانۍ دپلټنو او داطمینانیوله اصولو څخه له مراجعو څخه ددولت خزانې ته لیږل شوي دي .
مبلغ (٦۵۰) ملیون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته یې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفیه شوې دي .

.

په ۱۳۸٦کال کې هم دهند Deloitte کمپنۍ په همکارۍ چې دداخلي پلټنې دوړتیا دلوړولو مسولیت یې په غاړه لره . د کمپیوتر ،انګلیسي ژبې او دپلټنې کورسونه یې دایر کړل او (٦۰) تنه پلټونکي دانګلیسي کورسونو څخه (۳۱) تنه دکمپیوتر او (۱۲۰) تنه دپلټنې مسلکي کورسونو څخه ګټه واخیسته او (۲۷) تنه دزده کړئیزو ورکشاپونو دزده کړې په موخه هیواد څخه بهر لیږدول شوی دي.
په همدی ترتیب دنړیوال بانک WB دپروژو لګښت ، دملګروملتونو پراختیا یې دفتر UNDP او دافغانستان

دبیا رغونې لپاره دمرستو صندوق ARTF دلګښتونو بر سیره دکنترول او پلټنې اداري له لوري دهند Deloitte کمپنۍ په همکارۍ تر پلټنو لاندې نیول شوي او دپلټنو دپایلو رپوټ یې اړونده مراجعو ته استول شوی ده .

همدارنګه دپلټنو دپایلو توحیدي ریوټونه ترتیب او پکښې (۲۳) عنوانه تیروتنې په اداري کړنو کې ځانګړې شوي ، دلري کولواو اصلاح په موخه یې (۲۷) مورده اصلاحي سپارښتنې وزارتونو او ادارو ته وړاندې شوي دي .

همدارنګه د۱۳۸۵کال قطعیه حساب دپلټلوځخه برسیره دعادي قطعیې او پراختیایي قطعې باندې موافق مشروط نظر ورکړل شوی.
د۱۳۸۵ کال قطعیې ته په کتو سره پدې کال کې دعادي بودجې نه لګول شوې وجوه (۱،۵) ملیارد اود پراختیایي بودجې (۳۰،۸۶) ملیارد افغانی په بر کې نیسي چې په ترتیب سره دنه لګولو سلنه یې (۳،۳۹) او(٤٦،۷) سلنه ده.
ددې کال په اوږدو کې (۲٤) تنه کارکونکي داداري اصلاحاتودآزاده سیالۍ او ریفورم له لارې په بیلا بیلو برخو کې په دنده ګمارل شوی دي .